**ترڅوپورې ؟**

**زه به ترڅود بل غلام د ځان سلطان بولم ؟**
**زه به ترڅوپورې رقيب د ځان جانان بولم؟**

**زه به ترڅو پوري د ياراواغيارفرق نکوم؟**
**زه به ترڅو دا ټول اغيارسرې ياران بولم ؟**

**زه به ترڅوپورې پردي ته د خپل نوم ورکوم؟**
**زه به ترڅوهر بيګانه سړی افغان بولم ؟**

**هردروغجن ته به ترڅوپورې چکچکې کوم؟**
**زه به ترڅوټول پرديپال خپل رهبران بولم ؟**

**زه به ترڅوپورې باطل ته د حق نوم ورکوم**
**زه به ترڅوپورې ټول غله پرهيزګاران بولم؟**

**زه به ترڅو خپلو خپلوانو ته پردي وايمه ؟**
**زه به ترڅوپورې دوستان خپل دښمنان بولم؟**

**د وروروقاتل ته به ترڅوپورې غازي وايمه؟**
**زه به ترڅو افغانوژونکي اتلان بولم ؟**

**زه به ترڅوپورې پردي جنګ ته جهاد وايمه؟**
**ترڅوبه زه دا دوزخيان ټول جنتيان بولم؟**

**ترڅوبه زه قيام لاخپل ضميرته پړاوسمه؟**
**زه به ترڅو هرځناوردلته انسان بولم ؟**
**الحاج الهام الدين قيام**
27/08/2015